## JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گامهای مشترک برای مبارزه با فقر

له غربت سره د مبارزې لپاره ګډ ګامونه



## حسین کریمي

آذین د ډیکوریشن په برخه کې مشهور او
پېژندل شوی برانډ

# ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوساینې لپاره متشبثین

## حسین کریمي

### آذین د ډیکوریشن په برخه کې مشهور او پېژندل شوی برانډ

آذین ډیکور شرکت یو افغاني شرکت دی چې له څو کلونو راهیسې د بیلابیلو فرنیچرونو لکه فولادي نرم فرنیچر، د کارکونکو لپاره میزونه او څوکۍ، د ریاست میزونه او څوکۍ، د کنفرانس میزونه او څوکۍ، د ډوډۍ خوړلو میزونه او څوکۍ، د مطالعې او کمپیوټر میزونه او څوکۍ، د سینګار مېزونه، د کالیو الماری، د کتاب او بوټونو الماری، ډیزاین شوي الماری، دوه کسیز د خوب بسترونه او د ماشومانو د بسترونو پر تولید پیل کړی او اوس په افغانستان کې د فرنیچر په تولید کې یو له بریالیو شرکتونو څخه ګڼل کېږي.



کابل، افغانستان

په تیرو شلو کلونو کې یو له هغو کار او بارونو څخه چې نن ورځ په بازار کې د نورو کارونو تر څنګ د ځان لپاره بازار او پیربدونکي لري، د ډیکوریشن کار او بار دی. ډېری خلک له دې ډګر څخه د خپلو دفترونو، هستوګنې او سوداګریزو کورونو د سینګار لپاره کار اخلي او په افغانستان کې له دغو مشهورو شرکتونو څخه یو هم د آذین ډیکور دی، چې د حسین کریمي له خوا له کلونو راهیسې جوړ شوی او نن ورځ د هېواد په ټولو برخو کې د خلکو لپاره د ښکلا توکي وړاندې کوي.




د آذین ډیکور دفتر

نن ورځ په پلازمینه کې د آذین ډیکور شرکت درې ځانګې لري او پنځه دیرش تنه کارکونکي پکې پر کار مصروف دي، حسین کریمي وایي، "موږ هغه نسل یو چې د سختیو او نیمګړتیاوو ډک ژوند مو په مهاجرت کې تېر کړ او د نړۍ له ډېرو لومړنیو اسانتیاوو برخمن نه شو.
"



د آذین ډیکور کاري نمونې

# حسین کریمي

## آذین د ډیکوریشن په برخه کې مشهور او پېژندل شوی برانډ










"د آذین ډیکور کاري نمونې"

په نننۍ معاصره نړۍ کې یوازې هغه کسان دي چې خپلو موخو ته یې لومړیتوب ورکړی او د زمانې د سختیو او مشکلاتو په وړاندې یې نه ستړي کیدونکې هلې ځلې کړي دي او نن ورځ یو متشبث، سوداګر، او یا هم دوی پر خپلو ځانګړو وړتیاوو په درلودلو سره یو بریالی او بډای شخص دی، او ښاغلی حسین کریمي داسې یادونه کوي" د وخت تېرېدل خلکو ته دا ښوونه کوي چې خپل ظرفیت لوړ کړئ او په ژوند کې غوره پریکړې وکړئ."

انسان الله تعالی د یو داسې موجود په شکل پیدا کړی چې د ټولو موجوداتو په منځ کې لوړ مقام، فطرت او واک لري، بیا هم هغه کولی شي منحرف او منفي کارونه وکړي، یا هغه کولی شي یو شخص د خپل مثبت کار څخه په بشپړه توګه وګرځوي، نو موږ انسانان باید د خپلو ملګرو، دوستانو او شاوخوا خلکو په ټاکلو کې له احتیاط څخه کار واخلو، ترڅو خپل مثبت کارونه او فعالیتونه له لسه ورنکړو او د سمې لارې او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره یو پلان ولرو او تعقیب یې کړو؛ همدارنګه ښاغلي حسین کریمي دې ته په اشارې سره وویل: "دا مهمه ده چې د ځان لپاره یوه نظریه، برنامه او پلان ولرو او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې تعقیب کړو."



"د کافي شاپ شاوخوا (فضا)"

حسین کریمي آزین ډیکور په نړۍ کې وروستی ورځینی فیشن او سټایل بولي، لکه څنګه چې په هرو شپږو میاشتو کې د دوی کارونه په تازه کیدو وي او د خپلو ظرفیتونو د لوړولو لپاره ترې کار اخلي، همدارنګه نوموړی یادونه کوي،"چې ایران ته له کډوالۍ او هېواد ته له راستنېدو وروسته مې له لومړۍ ورځې ژمنه کړې وه چې هر څه به ثابت کړم. که چیرته زحمت وګالئ نو تاسو به بریالي واوسئ. "که تاسو غواړئ چې واقعا بریالي شئ، تاسو باید خپل ځان څخه داسې یوه نمونه جوړه کړئ چې کاپي نه وي او تاسو خپله پر الګو تبدیل شئ، چې له نېکه مرغه نن ورځ په افغانستان کې آذین ډیکور یوه الګوه دی.

# حسين کريمي

## آذین د ډیکوریشن په برخه کې مشهور او پېژندل شوی برانډ









"د آذين ډيکور کاري نمونې"

کريمي وايي په کاري په ډګر کې مهم د ارزښتونو لپاره کار کول دي، نه د پيسو لپاره، ځکه دا هغه ارزښتونه دي چې تاسو په مارکيټ کې د يو فرد په حيس ځانګړی کوي، بايد تل د نيوکې هرکلی وکړئ او د اصلاح لپاره يې پوره هڅه وکړئ، چې پايله کې؛ دا ټول کولی شي يو شخص له دننه څخه بډايه کړي او د بهر په کنټرول کې بريالي شي، او زه بايد دا په کوته کړم چې تاسو بايد په ژوند کې د هيچا څخه د مرستې تمه ونه کړئ.

له کومې شېبې چې تاسو د بريا احساس کوئ، له هماغه ورځې ستاسو پرمختګ پيل کيږي، نو هره ورځ فرصت واخلئ چې هغه وګورئ او غوره ګټه پورته کړئ، او يوازې په يو يا ډيرو مهارتونو تکيه کول د ژوند لپاره زهر دی، نو تاسو بايد تل زده کړئ او مخ په وړاندې لاړ شئ، نن ورځ د حسيني کار او سوداګرۍ کريمي نه يوازې دا چې کار پيدا کړی، بلکې د هېواد د توليداتو اعتبار او باور يې هم زيات کړی او دوی يوازينۍ هيله د آذين پايښت ګڼي.





"د آذين ډيکور کاري نمونې"

د هغو کسانو لپاره چې غواړي په دې برخه کې پانګونه وکړي او خپله سوداګري ولري، کريمي خپلې تجربې شريکوي او وايي: "په کار او تجارت کې له ډيرو ګټو او موقتي ګټو، لېوالتيا څخه ډډه وکړئ، "د بېلګې په لټه کې مه اوسئ، تاسو پر خپله الګو واوسئ، نيمګړتياوې مو وپلټئ او داسې څه جوړ کړئ چې له نورو څخه بېل وي او تر اوسه چا نه وي کړي." نو ترټولو لوی درس دا دی چې دوی بريالي شوي، نو تاسو هم کولی شئ.

# حسين كريمي

## آذین د ډیکوریشن په برخه کې مشهور او پېژندل شوی برانډ

























„ د آذین ډیکور کاري نمونې "